# Candidates Fined for Poster Violations

Afghan News **:Author**

شاوخوا 300 تنه د ولسی جرګې نوماندان د ټاکنیزو سیالیو د قوانینو څخه په سر غړاوی  او په ممنوعه سیمو کې د انځورونو د نښلولو له کبله تر 20000 افغانیو نقدی جریمه شوی دی

له دغې ډلې څخه نږدی یو په دری د هرات ولایت څخه ولسی جرګې ته نوماندان دی د تاکنو د شکایتونو د اوریدو کمیسیون وایی چې په هرات ولایت کې 86 تنه نوماندان نقدی جریمه شوی دی

د هرات ولایت د شکایتونو اوریدو کمیسیون مسوول احمد سعید حقیق په وینا" که جریمه شوی نوماندان په خبل وخت دغه جریمه ور نکړی دغه جریمه به دوه برابره شی او آن د دغو نوماندانو  نومونه به له لیسته  و ایستل شی "

د هرات ولایت اوسیدونکي له نوماندانو سرټکوی او  وایی  چې د انځورونو په نښلولو سره یی  ملکی وګړو ته مالی زیان اړولی دی

عبدالصمد چې  د هرات ولایت اوسیدونکی دی وایی چې د خپل د کور دیوار یی نوی رنګ کړی وو خو نوماندانو د ده د اجازې پرته  د انځورونو په نښلولو سره  پوښلی دی

Afghanistan **:Location**
Cell Phone Voter Project - Dari **:Focus**

**Source URL:** https://iwpr.net/ps/global-voices/candidates-fined-poster-violations